# ق

**مکی سورة دی ۴۵ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ ١

**قاف،( په اصلی معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی) قسم په با عظمته قرآن، (چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نبوت او د قیامت راتگ دواړه حق دی).**

بَلۡ عَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا شَيۡءٌ

عَجِيبٌ ٢

**خو( کافران دې ته) تعجب کوی چې د دوی له خپل( انسانی) جنس نه ورته یو شخصیت د پیغمبر پحیث ټاکل شوی او کافران وایی دا ډیره عجیبه ده:**

أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابٗاۖ ذَٰلِكَ رَجۡعُۢ بَعِيدٞ ٣

**چې مونږ به له مرگ او خاوری کیدو وروسته بیا راژوندی کیږو؟ دا بیرته راژوندی کیدل له عقل نه لیرې دی.**

قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤

**(الله تعالی فرمایی:) بې له شکه مونږ پوهیږو چې ځمکه د دوی د بدنونو څومره برخه خوری، او زمونږ سره( د لوح محفوظ) کتاب دی چې ټولې چارې پکې ثبت دی.**

بَلۡ كَذَّبُواْ بِٱلۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ فِيٓ أَمۡرٖ مَّرِيجٍ ٥

**( یوازې تعجب نه) بلکه برحق دین، چې ورته راغی دروغ یې وگڼه او په شک او تردد کې سرگردان دی( او گډې وډې نظریی وړاندې کوی).**

أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن
فُرُوجٍ ٦

آیا په دقت سره پورته آسمان ته نه ګوری چې څنګه مو جوړ او( په ستورو) ښکلی کړی چې هیڅ سوری او چاود پکې نشته.

وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍۭ
بَهِيجٍ ٧

او ځمکه مو غوړولې او مستحکم غرونه مو پکې نصب کړی او ډول ډول زړه راکښونکې او ښکلې ونې او نباتات مو پکې را زرغون کړی دی.

تَبْصِرَةً وَذِكْرَىٰ لِكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيبٍ ٨

تر څو د هر هغه انسان لپاره د عبرت درس شی( چې د هستی په نظام کې له ژور غور او تفکر نه وروسته) د الله تعالی( قدرت او ربوبیت ته د اعتراف او تسلیمۍ) سجده کوی.

وَنَزَّلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً مُّبَٰرَكًا فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ جَنَّٰتٍ وَحَبَّ
ٱلْحَصِيدِ ٩

او له آسمانه مو ډیرې برکتناکې اوبه نازلې کړی او د هغو په وسیله مو( راز راز میوه لرونکی) باغونه او د ریبلو وړ غلې دانې را زرغونې کړی دی.

وَٱلنَّخْلَ بَاسِقَٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ ١٠

او د خرما دنګې هسکې ونې چه ګڼ ګور وږی لری.

رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۖ وَأَحْيَيْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا ۚ كَذَٰلِكَ ٱلْخُرُوجُ ١١

د خپلو بندګانو د روزی لپاره. او په همدغو اوبو مو مړه ځمکه راژوندی کړې ده.( په قیامت کې له قبرونو نه د مړو) راویستل هم همدغسې وګڼه.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَأَصْحَٰبُ ٱلرَّسِّ وَثَمُودُ ١٢

( دا یوازې ستا د عصر کافران نه دي چې خپل پیغمبر دروغ ګڼي بلکه) له دوی وړاندې، د نوح قوم، اصحاب رس( یا د کوهی ملګرو) او ثمودیانو هم خپل خپل پیغمبران دروغ ګڼلی وو.

وَعَادٌ وَفِرۡعَوۡنُ وَإِخۡوَٰنُ لُوطٖ ١٣

او عادیانو، فرعون او د لوط ( قومی) ورونو هم.

وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡأَيۡكَةِ وَقَوۡمُ تُبَّعٖۚ كُلّٞ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ١٤

او اصحاب ایکه یا د ځنګله خاوندانو او د تبع قوم، ټولو خپل پیغمبران تکذیب کړی وو( چې په دغو ټولو قومونو باندې زما د عذاب د نزول) فیصله ثابته او صادره شوه.

أَفَعَيِينَا بِٱلۡخَلۡقِ ٱلۡأَوَّلِۚ بَلۡ هُمۡ فِي لَبۡسٖ مِّنۡ خَلۡقٖ جَدِيدٖ ١٥

آیا مونږ د (هستی د جهان) په لومړنی خلقت ستړی شوی وو،( چې اوس په دوباره ژوندی کولو د ستومانی احساس وکړو؟ هیڅکله نه) بلکه دوی( د ټولو روښانه او مستحکمو دلایلو په لیدلو بیاهم) د نوی خلقت په باب په شک کې دی.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ وَنَعۡلَمُ مَا تُوَسۡوِسُ بِهِۦ نَفۡسُهُۥۖ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنۡ حَبۡلِ ٱلۡوَرِيدِ ١٦

بیشکه چې مونږ انسان پیدا کړی او د هغه په ټولو باطنی وسوسو او تشویشونو هم ډیر ښه پوهیږو، او مونږ( زمونږ مؤظفې پرښتې) هغه ته د ورمیږ له رګ( شارګ) نه هم ډیر نږدې یو.

إِذۡ يَتَلَقَّى ٱلۡمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلۡيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٞ ١٧

یاد ساته چې دوه پرښتې (د نیکو او بدو اعمالو د لیکلو لپاره) له ښی او کین لوری( له انسان سره) ملګرې دی.

مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٞ ١٨

هره خبره چې د ده له خولې راوځی (د لیکلو او حفظ لپاره یې) یوه پرښته مؤظفه ده.

وَجَآءَتۡ سَكۡرَةُ ٱلۡمَوۡتِ بِٱلۡحَقِّۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ١٩

او د مرګ سکرات او بیهوشی په حقه راځی ( تر څو د برزخ او نوې اخروی نړۍ واقعیتونه د انسان مخې ته راشی، او محتضر ته ووایی) دا هغه څه دی چې ته ترې په تیښته وې.

وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡوَعِيدِ ﴿٢٠﴾

او شپیلۍ به ووهل شي، دا هغه( له ویرې او ترهې نه ډکه) ورځ ده( چې الله تعالی یې د راتګ لپاره د انبیاو په وسیله خلک) تنبیه کول.

وَجَآءَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّعَهَا سَآئِقٞ وَشَهِيدٞ ﴿٢١﴾

او هر یو تن به له خپل لیږدوونکی او ګواه سره یو ځای راوستل شي( لیږدوونکی پرښته به یې محشر ته بیایی او ګواهی ورکوونکې پرښته به یې د ده په اعمالو ګواهی ورکوی).

لَّقَدۡ كُنتَ فِي غَفۡلَةٖ مِّنۡ هَٰذَا فَكَشَفۡنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلۡيَوۡمَ حَدِيدٞ ﴿٢٢﴾

( هر یو بې عقیدې او منکر ته به ویل کیږي) دا هغه ورځ ده چې ته ترې بې خبره او غافل وې، نو اوس دې د غفلت پرده د ( بصیرت) له سترګو لیرې کوو، چې د سترګو دید دې تیز او روښانه شي.

وَقَالَ قَرِينُهُۥ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾

او ملګرې پرښته به یې ووایي: دا ده، د ده د اعمالو نامه چې ما ترتیب کړې ده.

أَلۡقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٢٤﴾

(پرښتو ته به وویل شي) ټول سرسخت دښمنان دوزخ ته وروغورځوئ: ===============

مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٖ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾

د خیریه کارونو دښمنان او مخه نیوونکی( د الله تعالی له حدودو باغیان او د خلکو په حقوقو) تیری کوونکی،( پخپل دین کې) شک کوونکی( او خلکو ته وسوسې او شکونه پیدا کوونکی).

ٱلَّذِي جَعَلَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ فَأَلۡقِيَاهُ فِي ٱلۡعَذَابِ ٱلشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾

او هغوی چې له الله تعالی سره یې بل (باطل او خود ساخته) معبود غوره کړی و،( له یوې مخې) شدید عذاب ته وغورځوئ.

۞ قَالَ قَرِينُهُۥ رَبَّنَا مَآ أَطۡغَيۡتُهُۥ وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَٰلِۭ بَعِيدٖ ﴿٢٧﴾

( شیطان) ملګری به یې ووایي: ای زمونږ ربه! ما خو، دی( جبراً) سرکشۍ او طغیان ته نه دی هڅولی بلکه دی( پخپله خوښه) په لیرې او اوږده ګمراهۍ کې سرګردانه و.

قَالَ لَا تَخۡتَصِمُواْ لَدَيَّ وَقَدۡ قَدَّمۡتُ إِلَيۡكُم بِٱلۡوَعِيدِ ٢٨

**( الله تعالی) به ووایی: زما په حضور کې جنجالونه مه کوئ، تاسو ته مې (د دې عذاب) اخطار لا پخوا ( د پیغمبرانو په وسیله) ابلاغ کړی و.**

مَا يُبَدَّلُ ٱلۡقَوۡلُ لَدَيَّ وَمَآ أَنَا۠ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ٢٩

**زما (د تهدید او اخطار) په فرمان کې( چې کافر او مشرک به دوزخ ته غورځول کیږی) هیڅ تغیر او بدلون نه راځی او زه پخپلو بندګانو هیڅکله زور ظلم نه کوم.**

يَوۡمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ ٱمۡتَلَأۡتِ وَتَقُولُ هَلۡ مِن مَّزِيدٖ ٣٠

**او هغه ورځ چې دوزخ ته به ووایو: آیا ( په خلکو) موړ او ډک شوې؟ دوزخ به ووایی: لا موړ نه یم، ځای پراخ دی، آیا نور (مستحقین) شته؟**

وَأُزۡلِفَتِ ٱلۡجَنَّةُ لِلۡمُتَّقِينَ غَيۡرَ بَعِيدٍ ٣١

**او جنت به پرهیزګارانو ته ډیر رانږدې کړی شی.**

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٖ ٣٢

**(ورته به په خطاب کې ویل کیږی) دا هماغه (جنت دی چې په دنیا کې یې) ستاسو سره وعده شوې وه. دا( لوړ مقام) د هغه چا په برخه دی چې( په دنیوی ژوند کې) الله تعالی ته رجوع کوونکی او( د الهی حدودو) ساتونکی و.**

مَّنۡ خَشِيَ ٱلرَّحۡمَٰنَ بِٱلۡغَيۡبِ وَجَآءَ بِقَلۡبٖ مُّنِيبٍ ٣٣

**هماغه چې( د الله تعالی په ذکر مصروف و، له ګناهونو څخه یې ځان لیرې ساته او) په غیبو له الله تعالی له عذابه ویریده، او اوس له پاک او رجوع کوونکی زړه سره د الله تعالی حضور ته راغلی دی.**

ٱدۡخُلُوهَا بِسَلَٰمٖۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُلُودِ ٣٤

**(ورته به ویل کیږی) په سلامتی سره( جنت ته) ننوځی،( نور مو مرګ نشته) همدلته مو تلپاتې ژوند دی.**

لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيۡنَا مَزِيدٞ ٣٥

**څه چې یې زړه غواړی (بې له ځنډه) ورته راوړل کیږی، او زمونږ سره (نعمتونه) لا نور هم زیات دی.**

وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم مِّن قَرۡنٍ هُمۡ أَشَدُّ مِنۡهُم بَطۡشٗا فَنَقَّبُواْ فِي
ٱلۡبِلَٰدِ هَلۡ مِن مَّحِيصٍ ٣٦

مونږ( د مکې له مشرکینو) نه وړاندې ډېر داسې ولسونه تباه کړی چې له دوی نه پیاوړی وو، او په نورو ښارونو به یې یرغلونه کول( او خپله واکمنی به یې ورباندې ټینګوله، خو آیا له دغه ټول قوت سره سره یې بیاهم له الهی عذاب نه) د تیښتې کوم رو ګودر موندلی دی( هیڅکله نه).

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكۡرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُۥ قَلۡبٌ أَوۡ أَلۡقَى ٱلسَّمۡعَ وَهُوَ
شَهِيدٞ ٣٧

په دغو( تاریخی او عبرتناکو واقعاتو باندې له غور او فکر نه)هغه کسان پند اخستی شی چې( پوهیدونکی) زړه ولری، او یا په حضور قلب او کامله توجه نصیحت اوریدلی شی.

وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ
وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٖ ٣٨

بې له شکه چې آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ ټول موجودات مو په شپږو ورځو( مرحلو) کې پیدا کړی( خو د د غې ستړې چارې په سرته رسولو کې مو هیڅکله) ستړیا او ستومانی نه ده احساس کړې.

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ
وَقَبۡلَ ٱلۡغُرُوبِ ٣٩

نو( ای پیغمبره د مشرکانو او کافرانو د زوروونکو خبرو په مقابل کې) صبر کوه او له لمرخاته او لمر پریوتو وړاندې د خپل رب ثنا او تسبیح بیان کړه( د سهار، ماسپښین او مازیګر لمونځونه وکړه).

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَأَدۡبَٰرَ ٱلسُّجُودِ ٤٠

او د شپې یوه برخه هم دالله تعالی تسبیحاتو ته وقف کړه( ماښام، ماسختن او تهجد لمونځونه وکړه) او له سجدو( لمونځونو) نه وروسته هم تسبیحات وایه( سنت او نوافل اداء کړه او مسنون اذکار او وظایف وکړه).

وَٱسۡتَمِعۡ يَوۡمَ يُنَادِ ٱلۡمُنَادِ مِن مَّكَانٖ قَرِيبٖ ٤١

او واوره، په هغه ورځ چې یو غږ کوونکی له ډېر نږدې فاصلې غږ وکړی.

يَوۡمَ يَسۡمَعُونَ ٱلصَّيۡحَةَ بِٱلۡحَقِّۚ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلۡخُرُوجِ ﴿٤٢﴾

هغه ورځ چې هر يو تن به دغه آواز واوری، دغه ورځ( له قبرونو څخه د مړو) د راوتلو ورځ ده.

إِنَّا نَحۡنُ نُحۡيِۦ وَنُمِيتُ وَإِلَيۡنَا ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤٣﴾

همدا مونږ يو چې ژوند او مرګ مو په واک کې دی او ټول بالاخره زمونږ حضور ته راتلونکی دی.

يَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلۡأَرۡضُ عَنۡهُمۡ سِرَاعٗاۚ ذَٰلِكَ حَشۡرٌ عَلَيۡنَا يَسِيرٞ ﴿٤٤﴾

هغه ورځ چې ځمکه وچوی او خلک( له قبرونو څخه) د ګړندي په لور منډې وهی او دغه( له قبرونو څخه راويستل او د محشر په ميدان کې حاضرول) مونږ ته ډير آسانه کار دی.

نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيۡهِم بِجَبَّارٖۖ فَذَكِّرۡ بِٱلۡقُرۡءَانِ مَن يَخَافُ
وَعِيدِ ﴿٤٥﴾

مونږ( د لجوجو کافرانو او د قيامت د منکرينو) په ټولو خبرو ډير ښه پوهيږو، خو ته هغوی په زور او جبر، حق منلو ته اړويستلی نشې،( ته د دغو لجوجو معاندينو په ايمان راوړلو پسې ډيره زياته هڅه مه کوه، بلکه د مبارک قرآن) په وسيله) هغه خلک تنبيه کړه چې په غائبانه توګه( د الله تعالی) له وعيدونو او تهديدونو څخه ويريږی.

« تمت سورة ق بفضل الله و رحمته».

====================